بسم الله الرحمن الرحيم

# په قطعي الدلالت نصوصو کې د اجتهاد په اړه

**(ژباړه)**

عابدالله ته

**پوښتنه:**

**السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!**

د اسلام په نظام کتاب کې داسې راغلي: پر همدغه اساس، لوړې موخې د ټولنې د ساتنې په هدف د انسان له جوړښت سره سمې نه دي، بلکې د الله سبحانه وتعالی له اوامرو او نواهیو څخه اخیستل کېږي. هغه ثابت دي، بدلون او پرمختګ نه مني؛ لکه د انسان نوعه، عقل، کرامت، نفس، فردي ملکیت، دین، امنیت او د هغوی دولت. دا ټول د ټولنې د ساتنې لپاره لوړې موخې او اهداف دي چې بدلون او پرمختګ نه مني.

پوښتنه دا ده: ایا په اساسي قانون کې اجتهادونه د ځینو نصوصو د بدلون په هدف امکان لري، په داسې حال کې چې د کتاب په نص کې راغلي چې بدلون او پرمختګ نه مني؟ په دې اړه توضیح غواړم، الله سبحانه وتعالی دې تاسو ته برکت او نصرت درکړي.

**ځواب:**

**وعلیکم السلام و رحمه الله و برکاته!**

ګرانه وروره! په قطعي الثبوت او قطعي الدلات نصوصو کې اجتهاد نه ترسره کېږي، یعنې هغه نصوص چې په ثبوت کې قطعي وي. د بېلګې په توګه، ایت او متواتر حدیث او په دلالت کې یې هم د ژبې او کتابو د ډولونو د بحثونو اړوند او قطعي سنت وي. په ظني الدلالت نصوصو کې اجتهاد ترسره کېږي، برابره ده که هغه قطعي الثبوت وي او یا ظني الثبوت. نو تر هغه چې ظني دلالت وي، په هغه کې اجتهاد ترسره کېږي. څنګه چې دغه مسله د فقې د اصولو په علم کې مشهوره ده.

او يادې شوې چارې په هغه کتاب کې چې لوړې موخې دي، د اسلامي ټولنې د ساتنې لپاره د هغه دليلونه قطعي الثبوت او قطعي دالدلالت دي. نو حکم يې د اجتهاد په واسطه بدلون نه کوي. ځکه په هغه کې اجتهاد نه ترسره کېږي او د هغه په اړه نصوص قطعي دي. اجتهاد د نصوصو د قطعي کېدو په صورت کې نه ترسره کېږي.

**ستاسو ورور عطاء بن خليل ابو الرشته**